محمد اسحاق برکت
ورجینیا ـ امریـــکا

۱۹ مـــارچ ۲۰۰۹

# هجري لمريز نوی کال
# مــو مبارک شه

د هجری لمريز نوي کال په درشل کې، د خپل زړه له کومي مبارکی او نېکي هيلي خپلو ټولو هيوادوالو ته ، محترمو شاعــرانو ، درنو او معززو ليکوالو او په ځانګړي توګه د «افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان» محترمو کارکونکو ته وړاندې کوم. په داسي حال کې چې هيوادوالو ته، د دوی پخواني خدمتونه ستايم په راتلونکي کې هم دوی ته لا نوری ستري برياوې غواړم اوهيله من يم خپله اوسنی فعاله، مثبته اوملي تګلاره چې غوره کړېده تر پايه تعقيب کړي.
د پسرلي دراتګ په وياړاو هيواد والو ته دهغه زيری، دغه د پسرلي څو لنډی ډالی کوم.

## پـــسرلی

د پـــسر لي عـلا مـــي راغلــي
په هره پوله کي بنګړي مات شويدينه

خــاونــده بيا دي پســرلـی کـړ
زه به ګودر کي انتظاره ناسته يمه

اوس پسرلــی شـــو آشنا به راشي
زه يې تيترکي دريدي ګلان تومبمه

چې پسرلی شی او ونــې شنــې شي
زه به آشنا سره يو ځای زيارت ته ځمــه

خـــاونـــــده ژر يـــي پســـرلـــی کـــــړي
له ډېر انتظاره مي زړګي وهي ټوپونه

چې پسرلی شی ته به بیا ګودر ته راشي
زه بـــه د ونـــي تـــر شا ستـــا دیـــدن کومـه

پســـرلی  خو سږ کال پس لی دی
لیلا وړه وه اوس له پیغلو سره ځینه

مـوريې منګی مې ژر شه را کړه
اوس پسرلی شو زه خو بیا ګودر ته ځمه

خـاونـده شکـر پسرلـی شـو
زه د سخی شاه مردان زیارت ته ځمه

پسـرلی ځـوانـانو ته پسرلـی دی
د « برکت » عمر خزان وهلی دینه

******

۱۹ مارچ ۲۰۰۹

نویسنده و شاعر توانا، جناب محمد اسحاق برکت!
کارکنان پورتال نیز در حالی که از لطف و مهربانی شما سپاسگزارند، مراتب تهنیت و تمنیات نیک خود را به تقریب حلول سال نو، خدمت شما و خانوادۀ محترم شما تقدیم مینمایند. سرفراز و برخوردار باشید.

با تقدیم محبت
پورتال ***AA-AA***